ژباړه: سمسور ودان
٢٠٢۴/٠١/١٢

# علامه اقبال او سوالي

یو چا له علامه اقبال وپوښتل: د عقل انتها څه ده؟

ځواب یې ورکړ: حیرانتیا.

ــ او د حیرانتیا انتها؟

ــ عشق

ــ نو د عشق انتها بیا...؟

ــ عشق لا انتها دی؛ کوم پای نه لري.

سوال کوونکي ور وکتل: مګر تا په خپل یو شعر کې ویلي:

(تیرے عشق کی انتہا چاہتا ہوں)

ژباړه:

(ستا د عشق انتها غواړم)

اقبال په موسکا ځواب ورکړ: په بله مسره کې مې د خپلې غلطۍ اعتراف کړی:

(مری سادگی دیکھ کیا چاہتا ہوں)

ژباړه:

(زما سادګي وګوره څه غواړم)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ